AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۵/۱۱/۲۱

# د ادیبانو نظافت

یوه ورځ د شهاب صیب له خپلي مېرمني سره د غالی اخیستلو په سر لانجه راغله، هغه غوښتل نوې غالی واخلي، خو ښځې یې اعتراض کاوه.

نومورې لیکي: "عفت راغله او د ښوونکي په څېر یې زما پوهول پیل کړل.

ویلي: زموږ کره ابن انشا راځي، وازې پېښي فرش باندې کیني، یو طرف مالتي او بل لور ته د ګنډیریو پاتي شوني غورځوي.

جمیل الدین الي راځي، په فرش غځیږي، سیګرټ پسي سیګرټي څکوي او ایره یې د کثافت دانۍ پرځای قالیني باندې غورځوي.

ممتاز مفتي په یو لاس کي خلاص پان (نشي توکی چي خولي کي اینودل کیږي) نیسي او دوهم لاس کي د زردې پوړی ورسره وي.

اشفاق احمد صیب په قالیني اخبار خپور کړي او د هندواني ترازې پرې کیږدي.
له ملتانه ایثار راعي ام او خربوزې راوړي. له ډهاکي څخه جسیم الدین د کېلو او رس ګولیو (غوړې مټایي) څڅېدونکي پېټی راوړي. هغه دا غوړ کارتنونه په ډېرې مینې غالی باندې وغوړوي.

کال کي څو وارې سید ممتاز حسین لیسانسه هم راځي چي د ۶۰ کلونو په عمر کي خواري کوي څو د انګلیسي ماسټري وکړي. هغه پر قالیني د نی قلم رنګ هره خوا څڅوي او مطالعه کوي.

یوازې راجه شفیع دی چي کله هم د جوارو ډوډی، سابه او غوړي له کلي راوړي، نو په قالیني یې نه هواروي. په سمي سلیقي یې پخلنځي ته راوړي؛ ځکه هغه نه شاعر دی او نه ادیب؛ بلکي زموږ د ملګرو ملګری دی. "

د عفت خبره بالکل رښتیا وه، نو موږ صلحه سره وکړه او یوه زړه رنګ اړولي قالینه مو واخیسته.

اقتباس: شهاب‌نامه

ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ